فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۲۵۷-۲۷۲

# د پوهاند فضل ولي ناګار شاعرۍ کې حماسي او عرفاني مفاهيم

پوهنیار محمدحسین میاخېل، پښتو ژبې او ادب څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، فراه لوړو زده‌کړو مؤسسه

**ایمېل:** mh.miekhel@gmail.com

**لنډیز**

استاذ پوهاند فضل ولي ناګار د افغانستان په معاصر اسلامي پاڅون کې شريک ليکوال او اديب پاتې شوی، د راسخې عقيدې او مشخص ارمان په درلودو يې په اړه دا دعوه کيدلی شي، چې استاذ يو جهت ښودونکی، انقلابي او عارف شاعر دی، دغسې شاعر چې د ملت د حماسو شيبې يې په ډېر لوړ ظرافت او لطافت سره سندريزې او د شعر د ابديت قالبونو کې په ځانګړي سبک سينګار او خوندي کړي، لازمه ده، چې څېړنه يې وشي، دلته هدف دا دی، چې د شعر، عرفان او حماسې تر لنډو پيژندنو وروسته د استاذ لنډه معرفي او بيا د استاذ په شعرونو کې د حماسې او عرفان بېلګې تر شننې لاندې ونيول شي، چې دا چاره د کتابتوني څېړنيز ډول او تشريحي ميتود په لاره ترسره شوې، په څېړنه کې موندل شوي، چې استاذ خپل اندروني کيفيات په څومره ماهرانه انداز کې برسيرن کړي دي، د دې ترڅنګ په دې څېړنه کې د حماسې او عرفان په هکله هم ځای ځای ځيني توضيحات لوستونکو ته وړاندې شوي دي، د استاذ ناګار په شاعرۍ کې د حماسي او عرفاني مفاهيمو په هکله بېلګې وړاندې شوې دي، د استاذ په شاعرۍ کې د حماسې او عرفان نادر تشبيهات او منظرکښۍ موندل شوي، چې لوستونکو ته خورا په زړه پورې انداز سره ذکر شوي مفاهيم انځوروي او بله مهمه موندنه دا ده، چې استاذ د خپل عرفان لپاره د حماسې لاره انتخاب کړې، چې دا کار د عرفان او تصوف په بحثونو کې يو نوی بحث اضافه کولی شي.

**کليدي ويیونه**: استاذ ناګار، حماسه، شعر، عرفان

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۲۵۷-۲۷۲

**سریزه**

په دې څېړنه کې د استاذ ناګار صاحب تر لنډې پېژندنې وروسته د ده د شاعرۍ په دوو مهمو او بارزو برخو، چې حماسه او عرفان دي، ځای ځای بحث کېږي او بېلګې يې راوړل کيږي، د دې موضوع د ټاکلو لامل دا و، چې د پښتو ژبې او ادب محصلينو ته د حماسې او عرفان په برخه کې د استاذ د شاعرۍ بېلګې توضيح شي او په دې برخه کې يوه ګټوره اضافه رامنځته شي، استاذ د خپل فکر او پيغام د خوړولو له پاره جالبه انځورګري لري، خپل سيمبولونه لري، د شعر په ژوروکې يې د حماسې او عرفان لوی بحثونه خوندي دي او د دې لپاره، چې لوستونکو ته يې دغه ارزښتمنې برخې نورې هم روښانه شي، په دې څېړنه کې پرې توضيحات ترسره شوي دي، د استاذ د شعر بارز کمال دا دی، چې ظاهراً يې د تغزل او شعريت رنګين لباس د مطلوبې معنا ښه بدله کړې وي، خو په شعر کې د عرفان او تصوف په رمزنوخبر لوستونکي او همدارنګه د افغانستان په نیږدې ماضي کې په تېرو واقعيتونو خبر اشخاص د استاذ د شعر نقابونه پورته کولی شي او د ده د مطلوب پيغام څخه خوند او مفهوم اخيستلی شي، د دې څېړنې اړتيا دا ده، چې زموږ هېواد په تېره يوه پېړۍ کې د دريو لويو امپراتوريو له خوا تر تاړاک لاندې راغلی، دلته مسلسل اشغال خپل بريځي او د غلطو فکرونو خاوندان روزلي دي  دا چې د خپلواکۍ او ايمان‌دارۍ بحثونه د شعر په خوندورو څپو کې زمزمه پاتې شي او زموږ ځوانانو ته د خپلو اسلافو اصلي تګلاره روښانه شي، اړتيا ده چې د دغسې ژمنو ليکوالو او شاعرانو په افکارو رڼا واچول شي او څېړنې پرې وشي، چې ځوان نسل يې له مفاهيمو اګاهي وومي او د افکارو په تنور کې يې ګټور ثابت شي، د دې څېړنې د شاليد په هکله بايد ووايم، چې د استاذ ناګار په شاعرۍ خورې ورې ليکنې شوي دي،  مګر د استاذ په شعر کې د حماسي او عرفاني مفاهيمو په هکله ځانګړې څېړنه نه‌ده شوې، دغه موضوع تر دې مهاله  د چا له خوا نه‌ده څېړل شوې او دا هڅه په خپل ځای نوې ده، د استاذ د شعر په ځينو نورو خواوو ښاغلي عبدالعزيز غيرت، ښاغلي يونس تنوير او نورو ځينې ليکنې کړې دي او خپل تأثرات يې شريک کړي دي، دا چې د استاذ په شاعرۍ کې د عرفان او حماسې بحث خورا ډېر غوښن دی، نو ښايي په راتلونکي کې د دې څېړنې د نورې غزونې کوښښ هم وشي.

د دې څېړنې هدف دا دی، چې د استاذ په شعر کې د حماسې او عرفان اړخونه لوستونکو ته روښانه شي، دا چې استاذ په اوسني پير کې د پښتو ادب د يو عارف، مجاهد او متصوف شاعر په توګه د يو سرلاري اديب حيثيت لري، د فن او فکر د ابلاغ لپاره يې

څېړونو ته اړتیا ده، چې مفاهیم یې درک او تفسیر کړای شي، څېړنه به دا پوښتنه ځواب کړي، چې ایا استاذ د حماسي او عرفاني مفاهیمو لپاره شعر کې د داخلولو عمدي او مسلکي کوښښ کړی او که نه.

دا چې استاذ ناګار د یو اکاډمیک شخص په توګه د ادبیاتو په برخه کې د استاذۍ په موقف کې مصروف پاتې شوی، په خپلې شاعرۍ کې یې د حماسې او عرفان موضوعات په مسلکي ډول پیيلي دي، د استاذ د شعر په شننه کې د ځانګړي حماسي انداز او ژور عرفاني رومانیت سره مخ کېږو، په همدې لحاظ دغه څېړنه ارزښتمنه په دې ده، چې د داسې یو مسلکي ادیب په شعر کې د شعر دغه دوه مهمې خواوې(حماسه او عرفان) په کې څېړل شوي، چې په خپله په فطري ډول شاعر او په اکتسابي ډول د دې ځانګې د استاذ په حیث د پوهاندۍ علمي درجې ته رسیدلی دی. د استاذ په شعر کې د حماسې او عرفان مفاهیم په نویو او ښکلو تشبیهاتو او کنایو کې موندلی شو او دا د پښتو شعر د غنامندۍ لپاره یوه ګټوره هڅه ده.

**د څېړنې کړنلاره**

دغه څېړنه د ډول له مخې کتابتوني ده، له تشریحي او مقایسوي مېتود څخه په ګټې یې مطالب توضیح او څېړل شوي‌دي.

**د استاذ لنډه پېژنده**

د استاذ تفصیلي پېژندنې ته به ډېره اړتیا نه‌وي، ځکه استاذ د خپل برلاسي قلم او شعر په ژبه خپلو مینه‌وړیو ته ځان ورپېژندلی او له بله پلوه یې ډېر شمېر محصلین تر روزنې را وتلي او د استاذ په پېژندنه کې پوره معلومات لري، خو دلته د دې لیکنې د اړتیا په اساس په لنډ ډول ذکر کوم، چې محترم استاذ پوهاند فضل ولي ناګار په (۱۳۳۲ هـ ل) د ننګرهار ولایت د بټي‌کوټ ولسوالۍ په څهاردهي سیمې کې دنیا ته سترګې غړولې دي، کابل پوهنتون څخه د پښتو ژبې او ادب په برخه کې د لیسانس په سویه فارغ او ننګرهار پوهنتون کې یې د یادې څانګې ماستري تکمیله کړې ده، د ننکرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاذ دی، علمي رتبه یې تر پوهاندۍ رسیدلې، (شملې هسکې ولونه ولونه، سندریون، دا هغه بالاحصار دی) درې شعري ټولګې لري، چې دریواړه د ناګار شاعرۍ تر عنوان لاندې د نجیب الله نایل په زیار چاپ شوي دي، د دې کتاب تر چاپ وروسته یې هم ډېره شاعري کړې، چې تر دې مهاله ناچاپه پاتې ده، ډېر شمېر علمي او فرهنګي تألیفات او لیکنې لري، د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاذۍ

ترځنګ د يادې ځانګې امر هم دی، تر استاذۍ وړاندې يې د جهادي دورې پر مهال د شهادت اخبار د مسؤل په حيث دنده ترسره کړې او تر څنګ يې نورې دندې هم کړې دي، عملاً يې د روسي ښکېلاک په وړاندې جهادي مورچلونه نيولي او د علمي او فرهنګي کار په خوا کې يې د تورې چلولو دين هم ادا کړی دی، د ژوند د تېرولو خاص طرز او ترتيب لري، په ظاهره خاموش، ارام او مطئمن ژوند تېروي، مګر د خاموشۍ مثال يې د شومه‌دم د شور غوندې خپل ځانګړی پيغام لري او په دې پيغام پوهيدل ځانګړی ذوق او ژمنتيا غواړي... د استاذ د پېژندنې په رابطه کښه اوږده ده، د اوس له پاره په همدې راسره بسنه وکړئ.

**شعر**

انسان د بيان او کلام په درلودلو د نورو ژونديو موجوداتو څخه په يو بيل امتيازي موقف کې قرار لري، الله تعالی فرمايي، چې: وخلق الانسان(۳) علمه البيان. (۴ ) سورة الرحمن. ژباړه: پيدا کړی يې دی انسان. بيا يې ورښوولی دی بيان، خبرې چې د زړه مقصدونه يې پرې ادا کيږي(هيئت، ۱۳۸۹: ۱٦۴۷).

د انسان د خلقت سره متصل د انسان د بيان په ارزښت بحث شوی، معنا دا چې انسان د کلام خاوند مخلوق دی او د بيان او کلام برخه د انسان په خلقت کې ډېره بارزه او د پام‌وړ ده، انسان د خپل مافي‌الضمير د اظهار او څرګندولو لپاره دوه ډوله کلامونه کاروي، چې يو يې د نثر برخه ده او بل يې د نظم يا شعر برخه، خبره خو په دواړو برخو کې کيږي، هم نثر د پيغام د انتقال وسيله ده او هم شعر دا چې ولې دغه دوه برخې کارول کېږي او يوازې يوه د نثر برخه نه کارول کيږي، دا په خپله يو بحث را ولاړونکې پوښتنه ده، د شعر پيدايښت دا ثابتوي، چې انسان دغسې کيفيات لري، چې په نثر کې نه ويل کيږي، که نثر د اظهار لپاره بسنه کولای، نو د شعر اړتيا نه‌محسوسيده، اوس چې اړتيا محسوسه ده، شعر د انساني کلام د تکامل او بشپړوالي يوه برخه بايد وګڼل شي، اروانښاد مجروح د شعر په هکله وايي، چې: «شعر او ادب په دنيا کې ډېر لوی رول لوبولی او لوبوي يې، د حماسي په صورت کې يې د جګړې هنګامه توده کړې او ځوانان يې چړو او تورو ته ورکړي دي، چې فلسفي رنګ يې اختيار کړی، نو فکري انقلابونه يې په عالم کې پيدا کړي دي او که يوازې د خوش‌ګذرانۍ او معاشقې سندرې يې غږولي، نو يې انسان د عياشۍ او بې مبالاتۍ په ګړنګ کې غورځولی دی»(الفت، ۱۳۹۲: ۱۰۴).

د شعر د پيژندنې په‌هکله دا هم ويل شوي، چې شعر هغه وينا ده، چې الفاظ يې ښکلي وي او ويونکی يې په فکر، پوهه، ذوق، د زړه هيجان او د روح اغېزې سره ګډ کړي.

يعنې هغه ښکلې، ممتازه، په زړه پورې او موذونه وينا، چې په فکر، پوهه، ذوق او هيجان کې د روح اغيزه هم ولري، شعري ښايست مونډلی شي، دلته د زړه او روح خبره مطرح ده او دا ترې جوتېږي، چې د زړه او روح دنيا يوه ځانته او بېله دنيا ده، چې د ذوق له چينې يې ښونه ځروبېږي او د يوه خاص موذون، په زړه پورې، د خيال او سوچ رنګينې بخښونکې وينا ته چې د انسان د داخلي کيفياتو او تأثراتو د اظهار تنده ماته کړي، شعر ويل کېږي، چې دغه تأثرات په نثر کې نه شي بيانېدلای.

**حماسه**

د حماسې د لغوي شننې په برخه کې پښتو- پښتو تشريحي قاموس حماسه د زړه- ورتوب، حماسي، تورې، مېړانې او حماست په معناوو را اخيستی دی(همدرد، ۲۰۱۲: ۱۱۷۳).

هغه کارنامې چې د زړه ورتيا په اساس تر لاسه کېږي حماسه يې بولي، دغسې يوه چاره چې د تورزنۍ او زړه‌ورتيا په پايله کې مرتبه شوې وي او يو مخصوص بدلون پرې راغلی وي، حماسه ګڼله کېږي، ادبپوهان د لرغوني يونان ادبي اثار په دريو برخو ويشي، يو يې غنايي، بل يې ډرامه يې او بل يې حماسي دي، حماسي برخې ته (ايپيک) وايي، ښاغلی سرمحقق دوست شينواری ليکي، چې: د لويديځ ادب په تاريخ کې د دغسې حماسي سندرو لوړه پوړۍ په لرغوني يونان کې منځته راغله، په لرغوني يونان کې د هومر(ايلياد) او (اوديسه) غونډې اثار جوړ شول، چې نن هم ترې لوستونکي خوند اخلي(منګل، ۲۰۱۷: ۱۶۹).

په پښتو ادبياتو کې د حماسي شاعرۍ پيل د پښتو د لومړني مونډل شوي او ثبت شوي شعر په اساس شوی، چې هغه شعر امير کروړ ته منسوب دی، ځيني څېړونکې د امير کروړ شعر وياړنه ګڼي او زياتوي چې حماسه هغه ته وايي، چې يوه بشپړه پيښه په کې را اخيستل شوې وي او په پای کې يې د پيښې هيرو او اتل څرګند کړی وي، مګر د حماسې مفهوم پراخه دی، وياړنه هم د حماسې په لغوی معناوو کې د زړه‌ورتوب په اساس د حماسې سره اړخ لګولی شي، دلته که ادبپوهان د حماسې د مفهوم په اساس لږ تم شي، ښايي ومني چې د امير کروړ شعر حماسي مفهوم لري، کوم شعر، چې د ويښتابه، اتلولی، پاڅون، ننګ او د حق څخه د دفاع مفاهيم لري، د حماسې روح په کې وي او بايد حماسي شعر وګڼل شي، دا چې اوسنۍ زمانه د ډېرو اوږدو کيسو لپاره وزګار خلک نه لري، دا ممکنه ده، چې يو لنډ غزل هم د خپل حماسي مفهوم په اساس حماسي وګڼل شي.

استاذ سر محقق روهي د حماسې په هکله ليکي: «حمس او حماسه په عربي ژبه کې په کار کې شدت او سخت‌والي ته ويل کيږي او له همدغې ريښې څخه ځينې نورې کلمې هم راوتلې دي لکه: احمس چې د سخت ځای، د زيړه او زړه ور سړي مانا ورکوي، چې ډير وخت په همدې مانا کارول شوې ده»(رشيدي، ۱۳۹۷: ۱۰).

د عربو ځينو قبيلو لکه قريش او بني‌عامر د زړه ورتوب له امله د حمس په نامه يادېدل، حمس، حماسه او حماس د شجاعت او زړه‌ورتوب، تورې ميړانې او د حق څخه د دفاع مفهوم ليږدوي.

د حماسي شعر په هکله ښاغلی پوهاند جمشيد رشيدي ليکي: «حماسه له حماسي شعر سره په خپل مفهوم کې يو څه توپير لري، دا سمه ده، چې هره حماسه په مجموع کې له حماسي شعرونو څخه جوړيږي، د بېلګې په توګه د اميرکروړ شعر حماسي دی؛ خو حماسه نه شو ورته ويلای، حماسه د يوې ټولنې د اتلانو زړه‌ورتوب، ميړانې او د وياړونو داستان دی»(رشيدي، ۱۳۹۷: ۱۰).

د حماسې په هکله دوه اصلونه ښودل شوي دي، يوه دا چې حماسه اوږده وي، بله دا چې په حماسه کې د تورې او ميړانې کېسه راغلې وي.

د استاذ ناګار په شاعرۍ کې د حماسې داستاني اړخ نه شته، خو د افغانانو د ملي او اسلامي پاڅون د زړه‌ورتيا او ميړانې انځورونه يې په داسې لطيفو جمالياتي منظرونو کې رانغاړلي، چې په مجموع کې د يو حماسي داستان منظر د لوستونکي مخې ته ږدي، دا چې د حماسې روح په ټوليز ډول د استاذ په شاعرۍ کې په څپو دی، اړينه ده، چې د شعر په څېړنه کې يې د حماسې په هکله بحث وشي او د استاذ حماسي مفاهيم څرګند کړل شي.

**د استاذ شاعرۍ کې حماسي بېلګې**

شيخ د حرمينو که موږ وګوري سنـــــــــــــګر کې
يوی به شي چې ټوکې کړې طاعـــــــت او په منبر کې

(نايل، ۱۳۸۰: ۲۹)

پورتني بيت کې استاذ د شوروي ښېکلاک په وړاندې د افغان مجاهدينو د معرکې يوه صحنه د لوستونکو مخې ته ږدي، چې د تورو غرونو په سر کې د تيږو په دفاعي ديوالونو کې پراته مجاهدين او د دښمن هوايي او ځمکنی حملې، خوا وشا د ډزو او مردکيو باران، د سنګر ملګري ځيني شهيدان، ځينې زخميان او ځينې په معرکه بوخت، سترې، وږې، تږې او ستومانه، د تکبير او اهونو نارې او د بارودو په ترخو لوګيو کې پټ د معرکې

ځوانان... دا ټول د الهي نظام د قيام او خپلواکۍ په موخه د عبادت په نيت ترسره کوونکي چاره ګڼي او د خپل ايمان او عقيدې حکم يې بولي، دا چې د ايمان او عقيدې په برخه کې د حرمينو امام هم شريک دی، نو هغه خو په خونډي منبر کې په خونډي توګه عبادت پرمخ وړي، که چيرې هغه زموږ د جګړهايز عبادت يا د جهاد دغه صحنه وګوري ښايي خپل عبادت ورته ټوکې ښکاره شي او ريښتنی طاعت زموږ طاعت وګڼي، رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه، چې په شهيد ولې د قبر امتحان نه شته، رسول عليه السلام ځواب ورکړ، چې کله د ده په سر د تورو پړقهار و او دی ثابت پاتې شو، نور نو دی امتحان ته ضرورت نه لري.

دلته د تشبيه ادبي صنعت کاريدلی او سنګر او منبر سره تشبيه شوي دي، چې مشترکه وجه يې عبادت ده، چې د تودې معرکې مجاهدين او د منبر شيخ په کې يو له بل سره تشبيه شوي او د سنګر د عبادت ارزښت پرې لوړ ښودل شوی دی، چې دا په خپل ماهيت او مفهوم کې د حماسې رنګ او پيغام لري.

او يا:

د ننـــــــني تهذيب په تنده مې سرخي د جهاد
د تمــــــدن ماشوم د ژوند زلمي تحليل پسې ته
که يې تکبــــــــير ويده ملـــت را لړزولی نه وای
د انقلاب شاعـــــــر شپـــيلۍ د اسرافيل پسې ته

(نايل، ۱۳۸۰: ۴۲)

ځانته د انقلاب د شاعر په مقام قايلېدل خپله د حماسې استازيتوب دی، استاذ وايي، چې د نن ورځې د تهذيب په تندي زما د جهاد سرخي پرته ده، پرون چې د کمونيزم نوکر د تمدن کوم درواغجن شعار غبراوه، هغه تر اوسه د ژوند تحليل نه دی موندلی او په خپله باطله مفکوره کې بېلارې پاتې دی او زياتوي چې، که ويده ملت زما په تکبير ويښ شوی نه وای، نو د اسرافيل شپيلۍ مې ورپسې راوړله او دا راته حتمي و، چې خپل خلک بايد د سره ښکېلاک او بدنام کمونيزم په وړاندې خبر او د ويښتابه جرس يې تر غوږونو وغږوم، چې د پاڅون او قربانۍ ليکو کې شامل شي او دا معرکه توده کړي.

بل ځای يې د حماسې شور داسې سندريز دی:

ژغورند تکـــــــــــــبير مې د شپيلۍ د انقلاب هنګامه
له ستر جـــــــــــــهاده اسکيرلو چار د جنـــــګ پوراوه

د ترقۍ سنـــــــــــدربول ټيټ شول شيطاني سرناچيان
چې له حـــــسان رض ځينې ناګار د غزل ترنګ پوراوه
(نايل، ۱۳۸۰: ۳۷)

او يا:

د عقـــــــــيدت کاروان ولاړ د قرباني په کرښـــه
زه حـــــدي خوان د پړاوونو د نـــــارو د غزل
(نايل، ۱۳۸۰: ۲۹)

حدي خوان د ح په پيښ سره هغو شاعرانو ته ويل کيده، چې د عربو د قافلو په تم ځايونو يا پړاوونو کې به يې د اوښانو مستولو له پاره شعرونه ويل، استاذ د افغاني معرکې او پاڅون ډيره جالبه انځورګري کوي، چې د عقيدت او افغاني جهاد کاروان د سرونو د قربانۍ په کرښه ولاړ دی او زه يې د خپل شعر په اساس د دې کرښې د ګټلو لپاره داسې په وجد او مستۍ راولم، چې سوبه پرې حتمي ترلاسه شي او د افغاني معرکې شاه زلمي د ستومانۍ احساس ونه کړي، چې دا ټول د حماسي شاعرۍ رنګ و خوند لري او د استاذ په شعر کې يې خورا غوښنه برخه موندلې ده. پورتني بيت کې شاعر ځان د حدي خوان سره تشبيه کړی، چې دا د تشبيه د ډولونو له مخې نادره تشبيه هم ګڼلی شو.

بله بېلګه ګورو، چې:

چې انځور پرې د مورچـــــــــــــلو کړم ناګاره!
تر هغې به وي لمبـــــــــــــــــــه دفتر زما
(نايل، ۱۳۸۰: ۳۶)

مورچلونه د جګړې محلونه وي، هلته د جګړې اور بل وي، سره لمبه وي او د انسان او باروتو ترمنځ معرکه روانه وي، په دې اورونو کې د جګړې شاه‌زلمي د خپل هيواد د خپلواکۍ او استعمار د ماتولو رازويني او خپل ځانونه په کې سيزي، استاذ چې د دغسې معرکو په ليکو کې پاتې شوی دی او دغه صورتحال يې په شعرونو کې په څپو او زمزمو دی؛ نو دی يې داسې اعتراف ته راوستی، چې د خپل شعر ټول دفتر ودېوان د دغسې لمبو کور ګڼي او همدا خپل د داخلي کيفيت ترجماني ورته ښکاري.

زموږ د بـــــدې ورځې شپه په آمو پورې وته
د عـــــــــصر لويه حادثه په آمو پورې وته
(نايل، ۱۳۸۰: ۴۳)

کله چې د روسي بدمستو قواو قوماندان الکساندر مایروف په آمو سیند د خپل وسله پوځ سره په شا شو، نو هلته يې داسې مطبوعاتي اعتراف وکړ، چې: ((زموږه مشرانو پر افغانستان د حملې پرېکړه، ډېره ناقصه کړې وه، هغه قوم چې د توپک په شپیلۍ کې جنت لټوي، هغوی سره جګړه کول تاریخي حماقت دی.)) په دې سره يې خپل شکست ومانه او څوړند سر روان شو.

ترجمان د ولولو اوســــــــــــــه ناګاره!
فن زخمي نه کا چې نورې کېســــــې کاندې

(نایل، ۱۳۸۰: ۳۵)

د بلیغ کلام په هکله ویل کیږي، چې د حال تقاضا سره برابره خبره بلیغه خبره وي، یعنې بلیغ کلام باید فی مقتضی‌الحال وي، استاذ ناګار په خپل معاني نومي اثر کې لیکي: (یوه وینا تر هغې اغیز نه لري، چې پر فصاحت سربېره د حال له غوښتنو سره برابره نه وي، خو داسې کلام چې په کې فصاحت او د حال د غوښتنو انځور یو ډول ښکاره وي، بلیغ بلل کیږي) (ناګار، ۱۳۹۷: ۷۰).

دا چې په هېواد د خونړي ښکېلاک لمبې بلې وي، نور بحثونه فن ته شاملول، د حال غوښتنې سره تناسب نه جوړوي او فن د بلاغت څخه غورځوي.

د هېواد د خپلواکۍ په معرکه کې د سر سودا او نذرانه په کار وي، په دې برخه کې د استاذ احساس داسې ښکاره دی، چې:

ستا آزادۍ له مې د سرو وینو سوغات ایښی دی
هـغه دا زه یمه چې سر مې په بایلات ایښی دی

(نایل، ۱۳۸۰: ۸۶)

د استاذ په شعر کې د په زړه پورې والي ستر عامل د ده ځواکمن تخیل دی، ښاغلی حالي د تخیل په هکله لیکي: (لومړنی څیز چې شاعر له ناشاعره بېلوي، متخیله ځواک یا تخیل دی، چې په انګلیسي کې ورته ایمجنیشن وایي، دا ځواک چې څومره په شاعر کې زیات او عالي وي، هومره يې شاعري غوره وي.) (ښکلی، ۱۳۹۰: ۵۷)

د استاذ په شاعرۍ کې د نادرو تشبیهاتو، په زړه پورې انځورګرۍ او سېمبولونو سره هم ډېر مخ کیږو، مثلاً استاذ سره سیلۍ شوروي ښکېلاک ته د سېمبول په توګه کاروي، د تکبیرونو هېواد افغانستان ته کاروي او داسې نور، چې استاذ د افغاني عظمت د تمثیل له پاره ترې یوه عجیبه انځورګري جوړوي، د استاذ د شعر سبک کې ساده ګي او اخلاصمندي

او د ده په ورځني ژوند کې اخلاص او ساده ګي سره ورته متناسب امتزاج وړاندې کوي، د سبک په برخه کې استاذ روهي وايي، چې: (د شخصیت زېږنده احساسات دي، چې کلمو ته رنګ ورکوي په دې توګه د لیکوال شخصیت چې څه رنګه په عملي ژوند کې غږېږي او دا یې د شخصیت ځانګړنه وي، دغسې یې د بیان طرز هم له شخصیته رنګ اخلي)(ښکلی، ۱۳۹۰: ۲۲).

**عرفان**

د عرفان کلمه د (عین په زېر سره ) په عربي ژبه کې د پیژندنې معنا ورکوي. افغان دري، پښتو- قاموس هم عرفان د شناختن او پېژندنې په معناوو ا اخیستی(افغاني، ۱۳۹۱: ۸۶۲).

عرفان د اصطلاح له مخې د خدای ج پیژندنې ته وايي، مګر دا پېژندنه د فلسفي او مادي استدلال په اساس نه ده، بلکې د مسلمان د روح، زړه، ضمیر او د عملونو او کردار د سپیځلتیا څخه ترلاسه کیږي، هغه لاره چې اهل الله یې د الله تعالی د قرب له پاره خوښه کړي عرفان بلل کیږي.

ځیني عارفان وايي، چې کله مؤمن جنت ته ولاړ شي او د جنت ټول نعمتونه وګوري بیا هم د یو څه کمی محسوسوي، خو کله چې د ستر خالق دیدار وکړي، نو د دې سره یې د خپل تکامل احساس په برخه شي او بشپړ ارام یې طبیعت ارام او بشپړ کړي، دا چې د دې ارام د موندنې له پاره په دنیا کې څه په کار دي، عارفان هغه د خدای ذکر ګڼي او د زړونو تسل ورته په همدې عارفانه تصوراتو کې ښکاري او دا د قران لارښوونه هم ده، چې د مؤمن د زړه قرار د الله تعالی په یادولو کې دی.

الا بذکرالله تطمن القلوب (الرعد:۲۸).

ژباړه: واورئ خبردار شئ چې په ذکر د الله سره مطئمن کیږي ارام نیسي زړونه د مؤمنانو (هیئت، ۱۳۸۹: ۱۴۴۱).

بل ځای الله تعالی خپل محبوب پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ته وايي، چې صابرین مؤمنان هغه خلک دي، چې: الذین اذا اصبتهم مصیبه قالو انا لله و انا الیه راجعون(البقره: ۱۵۶).

ژباړه: کله چې ورسیږي دوی ته څه مصیبت نو وايي دوی بیشکه موږ(مملوک) د الله یو او بیشکه موږ همدغه الله ته بیا ورتلونکي یو(هیئت، ۱۳۸۹: ۴۲۸).

عارفان هغه خلك دي، چې د دغو قراني لاربښوونو څخه يې ژور مفهوم ترلاسه کړی، کوښښ يې دا وي، چې د ژوند ټولې صحنې پرې داسې تېرې شي، چې له خپل رب څخه دوی غافل نه کړي. راځو د استاذ ناګار په شاعرۍ کې د عرفان بېلګو ته چې استاذ دغه مشاهدې او تجربې څه ډول د شعريت او تغزل سره غاړه غړۍ کړې دي.

**د استاذ شاعرۍ کې عرفاني بېلګې**

د استاذ په شاعرۍ کې د عرفان او تصوف برخه غوښنه ده او مسلکي څېړنې او شننې ته اړتيا لري، استاذ د خپل عرفان او رب‌پېژندنې لپاره هم يو انقلابي انځور لري او د دې لارې بارزه فنکاري يې همدا ده، چې دی خپل رب ته د تللو لاره په خپلو انقلابي ولولو کې ګوري او په دې سره يې ګوشه‌نشين عارف ته د عرفان يوه نوې لاره ترسيم کړې، چې:

تاريخ مې هر تينـــــــدك کــــــړ راته نوی شان تکل
بل باب د انــــــــــــــــــقلاب را اړوم تا له درځم

(نايل، ۱۳۸۰: ٦٩)

د استاذ د شعر کمالي اړخ دا دی، چې جګړې، وينو او سترو ستومانو شپبو ته يې داسې جمالياتي مناظر او د ښکلاوو زرين او رنګين لباسونه برابر کړي، چې مخاطب ته ډېرې سختې شپې هم جالبې او ډېرې په زړه پورې کوي. پورتني بيت کې د تاله درځم رديف يو عارفانه منظر دی، هغه منظر چې يو فنا فی‌الله سالك پرې همېشه خپل خيالات رنګين ساتي او د خپل رب په لور يون يې د ژوند په هرې ګړۍ کې په پام کې نيولی وي.

ساقي څه به احســــــان کړې په ناګار باندې سبا
د زړه د ويــــــــــنو جام يې په کوثر خوړلی دی

(نايل، ۱۳۸۰: ۴۹)

د عرفاني نومونو يا اصطلاحاتو په لړ کې ساقي: هغه چاته ويل کيږي، چې د الهي اسرارو پيمانه د خلکو زړونو ته ور تويوي او يا هغه شخص ته ويل کېږي، چې د توحيد پر نغمه د خلکو زړونه په مستۍ راولي، پير يا مرشد ته هم ويل کيږي(حبيبي، ۱۳۹۹: ۹۵).

استاذ د خپلو تجروبو په اساس د ساقي له احسان نه ځان خلاصوي او خپل تأثر د خپلو تجروبو پايله بولي، په دويم نيم‌بيتي کې د جام عرفاني نومونه راغلې: «جام په عرفاني اصطلاحاتو کې د عارف زړه ته ويل کيږي، چې د معرفت څخه ډك وي»(حبيبي، ۱۳۹۹: ۱۰۴).

پورتني بيت کې د ساقي او جام دوه عرفاني نومونې راغلي دي او ورسره د عارف فنکار عرفاني دعوه هم په زمزمو ده، چې دی په کې خپل سکون او معرفت د خپلو انقلابی تجربو پايله ګڼي او دا د کوم ساقي، پير او مرشد احسان نه بولي.

او يا:

د خدای سيـــوري کې تميز د مخلوق نه شته
په صـــــــــوفي او په رند هر يو نظر بويه

(نايل، ۱۳۸۰ : ۳۵)

د (رند) کلمه هم په عرفاني نومونو کې ځانته مفهوم لري، رند هغه چاته ويل کيږي، چې بې‌پردې خبرې کوي(حبيبي، ۱۳۹۹: ۹۵).

پورتني بيت کې د رند عرفاني نومونې د کاريدو ماسپوا يو بل تصوفي او عرفاني بحث هم په ځپو دی، چې هغه د خدای مخلوق کې د تميز نه کول دي، عارفان او صوفيان د وحدت‌الوجود او وحدت الشهود په دوو برخو ويشل کيږي، د وجود خاوندان کاينات د ذات مظهر او سيوری ګڼي او وايي، چې (ټول هغه دی يا همه اوست) او د شهود لاروي وايي، چې: (ټول د هغه دي يا همه از اوست).

په دې هکله استاذ ناګار هم ليکي، چې : «دغه خيال په ړومبي قدم کې له حقيقي مينې څخه زيږيدلی ښکاري. کله چې پر عارفانو او صوفيانو مينه غالبه شي، نو په هغې نړۍ کې له حقيقي محبوب پرته بل څه نه‌ويني»(ناګار، ۱۳۸۸: ۳۸).

د استاذ په شاعرۍ کې آګاهانه او نا آګاهانه د وجود او شهود بحثونه هم شامل دي، لکه چې وايي:

لټومه خـــــــــــپله ورکه، کله تال کله اواز کې
کله رنګ د ګل د پاڼو، کله شـــي خوره وږمه کې

(حبيبي، ۱۳۹۹: ۲۹۳)

د عارفانو او صوفيانو ډېر سروکار له (غيبت) او (حضور) سره وي، د استاذ د شعر بېلګه ګورو، چې:

ډېر لرې وتی دی، چې ډېره مـــــــــــــوده پس رانه‌غی
ناګار بې‌زړه نه دی، خو زړه يې اوس حضـــور نه لري

(نايل، ۱۳۸۰: ۵۸)

غيبت او حضور د عرفاني اصطلاحاتو په ټولي کې مشهورې نومونې دي، له غيبت څخه موخه له خپل ځان، ټولنې او چاپيريال څخه د عارف ناخبري ده او له حضور څخه مراد د الله تعالی په وړاندې د عارف حاضريدل دي، يا د حسن او جمال د دقايقو په مشاهده کې د عارف د زړه پټېدل دي، لکه ستر متصوف عبدالرحمن بابا چې وايي:

هسې محو وي د عشق په مى وناب کې
چې خبـــــــر نه‌وي په وصل په فراق

(منګل، ۲۰۱۷: ۲۷۷)

په ټوله کې د استاذ شاعري د علامه اقبال د شاعرۍ په څېر د معنا، سوز، ذوق او مفهوم شاعري ده، لکه اقبال چې وايي:

نه شعر است اينکه بر وی دل نهادم
گره از رشـــــــــــــته معنی گشادم

(شهرام، ۱۳۸٦: ۴۵)

د استاذ شعر هم دغسې دی، چې ټوله منظرکښنه، جمالياتي تناظر، معنافراواني او نور شعري تلازمات يې د معنا لپاره کارولي، چې شعرونه يې ګورې نو د عرفان او حماسې په محور به په يو ډول نه يو ډول چورليدلي وي.

**پايله**

د پوهاند استاذ فضل ولي ناګار شاعري د افغانستان د معاصر تاريخ د يوې ځانګړې دورې استازيتوب کوي، د شعر د کمالاتو او ښايستونو له نظره يې هم د شاعرۍ څېړنه اړينه ده او د هېواد د ازادۍ او اعلاء کلمة الله په لاره کې يې هم تأثرات څېړل غواړي، د استاذ د شاعرۍ طبيعت داسې دی، چې ورسره مخ کېږې، نو د ده ځانګړي سيمبولونه، د شعر ځانګړې لطافت او په زړه پورې منظرکښنه د بيدارۍ او ويښتابه پيغام او هيله‌مندي د سړي مخې ته ږدي، استاذ د يوې دردناکې او سترې ستومانې دورې شاعر دی، مګر د نورو ډېرو شاعرانو او ليکوالو بالعکس د ستومانۍ، مايوسۍ او پريشانۍ پرځای د ولولو، ازادۍ او د ايثار له رنګينيو څخه بحث کوي او همدا ځای دی، چې پښتو غزل ته يې تر حمزه بابا وروسته نوی رنګ او مقام وربخښلی دی، د غزل په تنسته کې يې د افغانيت، استقلال، عرفان، تصوف او عزيز اسلام مفاهيمو دومره بيروبار جوړ کړی، چې سړی يې انتخاب ته حيران شي، دغسې شاعري چې لطافت، منظرکښنه، تشبيهات او کنايې په کې د مضامينو او مفاهيمو د انتقال او شرحې لپاره په کار شوي وي او يو رغنده او ژغورنده پيغام لېږدوي،

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۲۵۷-۲۷۲

په ټولنه کې د وينبتابه او تربيت سبب ګرځي او شاعر يې د ټولنې لپاره د مفکر مقام خپلوي، پورتنۍ څېړنه کې وښودل شوه، چې د استاذ په شعر کې د حماسې او عرفان دواړه خواوې شته او حتی د استاذ په شعر کې د عرفان مطالب هم د حماسې په مفاهيمو کې خپل امتزاج موندلی دی، چې د استاذ يوه نادره ځانګړنه وړاندې کوي، چې د دې دعوې په رابطه پورتنيو بېلګو کې مشت نمونه خروار بحث وشو، نور نو د دې فن ذوقمنان بايد د استاذ فن ته په خپله سر وربنکار کړي او له نورو خوږو يې ځانونه خبر کړي.

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۲۵۷-۲۷۲

## مأخذونه

افغاني نويس، عبدالله.(۱۳۹۱ هـ ل). **افغان- دری پښتو قاموس**. پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه.

الفت، ګل پاچا.(۱۳۹۲ هـ ل).**ليکوالي املا او انش**ا. ننګرهار: يار خپرندويه ټولنه.

حبيبي، سراج احمد. (۱۳۹۹ هـ ل).**عرفاني ادبيات**. هرات: القدس چاپخانه.

رشيدي، جمشيد.(۱۳۹۷ هـ ل).**حماسي ادبيات**. کابل: نويسا خپرندويه ټولنه.

شهرام، رجب زاده(۱۳۸٦ هـ ل).**گزيده شعرهای اقبال لاهوری**. تهران: قدياني چاپخانه.

ښکلی، اجمل. (۱۳۹۰). **سبکپوهه**. کابل: دانش خپروندويه ټولنه.

منګل، اسير.(۲۰۱۷ م).د عبدالرحمن بابا کليات. پېښور: منګل کتاب کور.

ناګار، فضل ولي.(۱۳۸۸ هـ ل).**عرفان او د پښتو ادب په لرغونې دوره کې يې څرکون**ه. ننګرهار: ناګار خپرندويه ټولنه.

ناګار، فضل ولي.(۱۳۹۷ هـ ل) **.معاني. پيښور**: ميهن خپرندويه ټولنه.

نايل، نجيب الله. (۱۳۸۰ هـ ل). **د ناګار شاعري**. ننګرهار: ناګار خپرندويه ټولنه.

همدرد، عارف خان. (۲۰۱۲ م) **.پښتو-پښتو تشريي قاموس**. پېښور: ميهن خپرندويه ټولنه.

هيئت، د افغانستان د علماؤ علمي.(۱۳۸۹ هـ ).په پښتو ژبه د قرآن کريم د معانيو ژباړه: کابل: دانش خپرنځی.

فراه علمي-څېړنيز ژورنال
لومړی کال، لومړۍ ګڼه ۱۴۴۵ هـ ق/۱۴۰۲ هـ ل
مخ: ۲۵۷-۲۷۲

# Epic and Mystical Concepts in Professor Fazel Wali Nagar's Poems

Mohammad Hussain Miyakhil, Pashto Language and Literature Department, Education Faculty, Farah Higher Education Institute
**Email**: mh.miekhel@gmail.com

## Abstract

Pohand Fazel Wali Nagar, who has been a co-writer and writer in Afghanistan's contemporary Islamic literature, can be said to have a strong belief and definite ambition. Besides being a teacher, he is also a revolutionary and a wise poet. The humorous moments have been decorated and saved in a special style in beautiful poetry and songs with great elegance and delicacy. It is necessary to research it, the purpose here is to introduce the poet's poetry after knowing the mysticism and mysticism of the poem, and then to analyze the examples of mysticism and mysticism in the poems of the pohand, which is a kind of bibliographic research. And the explanatory method will be found in the report, that the professor has analyzed the internal qualities in a very expert manner, besides this, in this research, the readers are presented with detailed explanations about the mysticism and mysticism. In the poetry of Pohand Nagar, examples of epic and mystical concepts have been presented. In the poetry of Pohand Nagar, rare analogies and imagery have been found, which convey the concepts mentioned to the readers in a very interesting way. Another important finding is that Pohand has chosen a dramatic path for his mysticism Irfan and Sufism can add a new discussion to the concept.

**Keywords**: Professor Nagar, Poetry, Epic, Mysticism